مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولی ناروغ

۲۰۲۱/۰۱/۱۹

# د عقل خزانه

دا تـقد یر نـــدی چی تا بـانـدی وریـږی
ستا خپل نیت دی چی پر تا باندی لوریږی

تــه که شاه یـــی کـه ګدا، له خـپـلـه لاسه
دا د عـقـل خــزانـــه ده نـــه ختـمـــږی

تــه که ښــه کانـدی که بـــد کانـدی دلـبــره
دا بـه یــو ـ پـه یــو پـه پـتـه حسـابـیـږی

د جـنـت او دوزخ حـال پـــر تـــنـــدی ندی
واړه ستــا لــه خـپـل عــمـلـه در رسیږی

د شـیـطان او د رحــمان پـه مـعـرکه کـی
د جــنـــت او د دوزخ لاری بـــــد لـیــږی

که جنت دی کــه دوزخ دی کــه تـاریـــخ
ستا بستر به خــامخـا پـه کی غــوړیږی

د دنـیا د آزمـایـښـت مـعـنـی هـــمــــدا ده
چی فـــردا بــه دی د نـن پـه اور پـخــیـږی

ولی ناروغ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ